د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه 1 شوال، ۱۴۴۵هـ | ۲۰۲۴/۰۴/10م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/13

**مطبوعاتي اعلامیه**

# د کوچني اختر رارسېدو په مناسبت د حزب التحریر - ولایه افغانستان د مبارکۍ پيغام

د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د کوچني اختر رارسېدو په مناسبت د نړۍ ټولو مسلمانانو ته مبارکي وايي. د رحمت، مغفرت او د دوزخ له اور څخه د خلاصون میاشتې په ختمېدو؛ د ارحم‌الراحمین رب له دربار څخه په ډېرې عاجزۍ غواړو چې د ټولو مسلمانانو روژې، عبادتونه، صدقې او مبارزې یې قبولې کړې وي او د اسلامي امت پر مخ د خیر او برکت، نصرت او بریا دروازې خلاصې کړي.

اختر د مسلمانانو د خوشالۍ ورځې دي؛ خو سږ کال په اسلامي نړۍ کې داسې پېښې شوې چې زموږ پر دغې خوښۍ یې خپل سیورى غوړولی او اسلامي امت یې د خپل تاریخ په یوه له تر ټولو تیاره دورو کې اچولی. په تېرو شپږو میاشتو کې د غزې پر مسلمانانو داسې ترخې پېښې راغلې چې د نړۍ خلکو د لومړي ځل لپاره جنایت او نسل‌وژنه په کتابونو کې نه، بلکې په ژوندۍ بڼه د خپلو ټلویزیونونو له لارې ولیده. له بده مرغه، د غزې له ویجاړۍ او د سلګونه زرو کسانو له وژل کېدو او ټپي کېدو سره، لا هم مړه وجدانونه ژوندي نه شول. وحشي یهود د امریکا، انګلستان، اروپايي اتحادیې او د اسلامي خاورو د خاینو حکامو په مرسته د فلسطین د ښځو او ماشومانو ټول‌وژنې ته دوام ورکوي.

خو د دغې تیاره او غمجنې دورې په زړه کې د هیلو یوه رڼا لیدل کېږي چې د غزې خلکو په خپل صبر او استقامت بله کړې. د غزې خلکو په خپل استقامت او مجاهدت په دغې سخته فتنه کې د نړۍ خلکو ته اسلامي ارزښتونه له سره وروپېژندل او ورته ثابته یې کړه چې کوم قوم اخرت تر دنیا پورته بولي او د الله سبحانه و تعالی رضایت تر رزق او امکاناتو غوره ګڼي؛ تر ټولو پیاوړي خلک دي. وموليدل چې د یهودي دولت ټانکونو او الوتکو د غزې ودانۍ ویجاړې کړې، خو د خلکو فولادي عزم یې مات نه شوی کړی. تاریخ به د هغې مور زړورتیا په یاد لري چې د خپل اولاد پر شهادت یې د اوښکو تویولو او چغو پر ځای، شکر او ویاړ کاوه او نورو ته یې د دغې خوښوونکې پېښې خبر ورکاوه.

له بل لوري، د غزې پېښو وښوده چې امت نور پر هغوی تپل شوې پولې او خرڅ شوي حکام نه غواړي. وموليدل چې له بېلابېلو خاورو مسلمانو ځوانانو هڅه وکړه چې پلې فلسطین ته لاړ شي. دغه راز د یهودي دولت جنایتونو د غربي استعمارګرو دولتونو، بنسټونو او خوسا ارزښتونو اصلي څېره وښوده او ثابته یې کړه چې غرب په ډېر زور اخلاقي او ارزښتي ناورین کې دی؛ مګر غرب کله اخلاق او ارزښتونه لري!!

یو ځل بیا له الله سبحانه و تعالی څخه غواړو چې دا اختر د مسلمانانو لپاره د خیر، برکت او نصرت پیلامه کړي چې راتلونکی اختر د دوهم راشده خلافت دولت په سیوري کې او تر لواء او راية العقاب ﴿لا إله إلا الله محمد رسول الله﴾ بیرغونو لاندې ولمانځو. حزب التحریر د اسلامي امت د

نهضت او خلافت د تاسیس له لارې ریښتیني وحدت لپاره د الله سبحانه و تعالی په مرسته او توفیق خپلې سیاسي او فکري مبارزې ته همداسې دوام ورکوي او په دې لار کې د هېڅ ملامتوونکي له ملامتۍ نه وېرېږي.

﴿فَالَّذِينَ آمَنُواْ بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُواْ النُّورَ الَّذِيَ أُنزِلَ مَعَهُ أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ [الاعراف: ۱۵۷]

**ژباړه:** *«نو چا چې پر هغه (پیغمبر صلی الله علیه وسلم) ایمان راووړ، د هغه حمایت یې وکړ او نصرت یې ورکړ او له هغه نور (قران) څخه یې پیروي وکړه چې پر هغه (صلی الله علیه وسلم) نازل شوی – همدوی بریالي دي»*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**